# قرباني سُنَّتِ انبیاء ده

**15-July-2021**



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکې

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# قرباني سُنَّتِ انبياء ده

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، نو په ياد سره د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې په جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدلو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د مخكښې نه مو د اعتكاف نِيَّت كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د نبـئ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: په ورځ د قيامت به ما ته ډير نِزدې هغه كس وي چا چې په دُنيا كښې په ما باندې زيات دُرُود شريف لوستلي وي. (1)

بچیں بے کار باتوں سے، پڑھیں اے کاش! کثرت سے
ترے محبوب پر ہر دم درودِ پاک ہم مولیٰ! (2)

1...ترمذی، ابواب: الوتر، صفحه: 144، حديث: 474۔
2...وسائِلِ بخشش، صفحه: 99۔

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ** (يعنې) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! ياد ساتئ! په نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو:

نِيَّت اوكړئ چې، ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ چې څومره كيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې كښينم ❀ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هم اوكړئ.

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

شيخِ طريقت، اَميرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خپله رساله **"ابلق گھوڑے سوار"** كښې يو ايمان افروز حكايت نقل كوي، د هغې مضمون څه داسې دے: حضرت احمد بِن اسحاق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائی: زما ورور غريب وو، د دې باوُجود به هغه د **الله** پاك د رضا د پاره هر كال د غټ اختر په ورځ قُرباني كوله، د هغه د وفات نه پس ما خوب اوليدو چې قيامت قائم شوے دے، خلق د

[1] ...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

خپلو خپلو قبرونو نه را وتلي دي، ناڅاپه زما وفات شوے ورور په يو ښکلي برګ اس باندې سور ښکاره شو، هغه سره نور هم ډير اسونه وو. حضرت احمد بِن اسحاق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائی: ما د خپل ورور نه تپوس اوکړو: اے زما وروره **الله** پاك ستا سره څه مُعامَله فرمائيلي ده؟ هغه اُووئيل: **الله** پاك زه اوبخښلم. تپوس مې ترينه اوکړو: د کوم عمل په سبب؟ اوئې وئيل: يوه ورځ مې يوے غريبې بوډۍ ته د ثواب په نِيَّت يو دِرهم (يعني د سپينو زرو يوه سِکه) ورکړے وه، هغه په کار راغلو. بيا ترينه ما تپوس اوکړو: دا اسونه څنګه دي؟ اوئې وئيل: دا ټولې زما د غټ اختر قُربانۍ دي او په کومه چې زه سور يم دا زما اوله قُرباني ده. ما ترينه تپوس اوکړو: اوس مو چرته د تللو اِراده ده؟ اوئې وئيل:جَنَّت ته. دا ئې اُووئيل او زما د سترګو نه پناه شو. (1) د **الله** پاك دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!	صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! قُرباني سُنَّتِ اِبراهيمي، سُنَّتِ مُصطفٰی بلکه سُنَّتِ انبياء ده، په دې مُناسَبَت سره به نن مونږه د قربانۍ په باره کښې د قرآنِ کريم درې آيتونه، د هغې وَضاحت او د آيتونو په رنړا کښې د علم و حکمت مَدَني ګلونه د اوريدلو سعادت حاصلوو. **الله** پاك دِ مونږ ته په قرآنِ کريم د پوهيدلو، په دې باندې د عمل کولو او د **الله** پاك په بارګاه کښې د ځان، مال، وخت وغيره قرباني پيش کولو جذبه رانصيب کړي او کاش چې! په ورځ د قيامت بے حسابه جنت ته داخليدل را نصيب شي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1...ابلق گھوڑے سوار، صفحه:1تا2۔

صَــلُّــوْا عَــلَـى الْـحَـبِـيْــب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## وړومبے آيت: د قربانۍ حکم هر اُمَّت ته ورکړے شوے دے

په سيپارهٔ 17، سورهٔ حج، آيت: 34 کښې **اللّٰه** پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِّیَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِیْمَةِ الْاَنْعَامِؕ (پارہ17،سورۃالحج:34) | مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: او د هر اُمَّت د پاره مونږه يوه قرباني مقرره کړه چې هغوئي په دې خبره د اللّٰه نوم ياد کړي چې هغه دوئي ته د بے زبانه ځاروو نه رزق ورکړو. |

د دې آيت لاندې په **تَفْسِيْرِ صِرَاطُ الْجِنَان** کښې دي: د آيت معنٰی دا ده چې مخکښې خومره ايمانداره اُمَّتونه تير شوي دي، د هغه هر اُمَّت د پاره **اللّٰه** پاك يوه قرباني مقرر کړې وه چې هغوئي د ځاروو ذَبح کولو په وخت په هغو باندې د **اللّٰه** پاك نوم واخلي. **(1)**

اے مسلماں! سُن یہ نکتہ درسِ قرآنی میں ہے
عظمتِ اسلام و مُسلم صرف قربانی میں ہے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې آيتِ کريمه نه مونږه **دوه مدني ګلونه** زده کړل: (1) د ځاروي ذبح کولو په وخت د **اللّٰه** پاك نوم اخستل شرط دے. په بهارِ شريعت کښې دي: د ذبح کولو په وخت ئې که قصداً بِسْمِ الله اُونه وئيله نو ځاروے به حرام شي او که ذبح کوونکي نه بِسْمِ الله هيره شوه نو په دې صورت کښې ځاروے حلال دے. ❁ دغه شان که دوه کسان په يو ځائے ځاروے ذبح کوي نو ضروري دي چې دواړه بِسْمِ الله اولولي، که يو هُم قصداً بِسْمِ الله اُونه وئيله نو ځاروے به حرام شي، ❁ بعضې خلق ذبح کول په قصاب کوي خو د برکت د پاره په چاړه

1...صراط الجنان، پاره:17، سورهٔ حج، زيرِ آيت:34، جلد:6، صفحه:443۔

باندې صرف لاس کيږدي، د هغوئي د پاره هم ضروري ده چې بِسۡمِ اللّٰه اولولي.[1]

(2) د دې آيتِ کريمه نه دويم مدني ګل دا ميلاؤ شو چې قُرباني ډېر زوړ عبادت دے، د دُنيا ټول هدايت يافته قومونو به قُرباني کوله.

## انبيائے کرام عَلَيۡهِمُ السَّلَام او د هغوئي د قومونو قُربانيانې

که تاريخي اعتِبار سره اوګورو نو معلوميږي چې د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام نه واخله د حضرت عِيسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام پورې به هر اُمَّتد خپل شريعت مطابق قُرباني کوله. د مِثَال په طور ❁ د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام شهزاده حضرت هابيل رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه او د هغه ورور قابيل قرباني پيش کړي وه د دې ذِکر په قرآنِ کريم کښې موجود دے.[2] ❁ د حضرت نُوح عَلَيۡهِ السَّلَام مُتَعَلِّق نقل دي چې هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام باقاعده ذبح خانه جوړه کړي وه، چرته به ئې چې د اللّٰه پاك په بارګاه کښې د څاروو قُرباني پيش کوله.[3] ❁ د حضرت ابراهيم خليلُ اللّٰه عَلَيۡهِ السَّلَام د اللّٰه پاك په بارګاه کښې عجيبه قرباني پيش کول خو مشهور دي، [يعني په اوَّل ځل حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام د خپل شهزاده حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلَام قُرباني پيش کړي وه او اللّٰه پاك د هغې په بدله کښې د جنَّت نه ګډ راليږلے وو] ❁ منقول دي چې د حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام په مبارك دور کښې به خلقو د څاروو قربانئ کولې.[4] ❁ بنــي اسرائيلو کښې هم د قُربانئ کولو عام معمول وو، خلقو به خپل ډېر محبوب يعني

---

[1]...بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:316 و 318، حصه:15۔

[2]...صراط الجنان، پاره:6، سورهٔ مائده، زيرِ آيت:27، جلد:2، صفحه:416،۔

[3]...قربانی کے احکام، صفحه:34۔

[4]...قربانی کے احکام، صفحه:53۔

ډير خوښ شوي ښاروي د **اللّٰه** پاك د رضا د پاره قُربانول.[1] ۞ د حضرت سُلَيمان عَلَيْهِ السَّلَام په باره کښې روايت دے چې کله هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام **بَيْتُ الْمُقَدَّس** تعمير کړو، هغه وخت ئې بنـي اسرائيل راجمع کړل او د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښې ئې د شُکرانے په طور ښاروي ذبح کړل.[2]

## د خوږ آقا د آباء و اجدادو قُربانۍ

۞ دغه شان په عربو کښې او خاص طور زمونږ د خوږ آقا مکي مدَني مصطفٰی صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پلار نيکونو کښې قُرباني کول عام وو، ۞ د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نَسَب مُبارَك کښې اَتَه ويشتم نيکه حضرت قَيذار رَضِيَ اللّٰه عَنْه دے، هغوئي يو ځل د يو نيك مقصد د پاره په يو وخت دومره قربانۍ پيش کړې چې د غيب نه غږ اوشو: **حَسْبُکَ يَا قَيْذَارُ! قَدْ قَبَّلَ اللّٰهُ قُرْبَانَکَ** اے قيذاره! بس کړه...! بيشکه **اللّٰه** پاك ستا قُربانۍ قبولې کړې دي.[3] ۞ دغه شان د خوږ آقا صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نيکه مبارک حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِيَ اللّٰه عَنْه خو د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښې داسې قُرباني پيش کړه چې د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د قُربانۍ ياد تازه شو. منقول دي چې کله حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِيَ اللّٰه عَنْه ته معلومه شوه چې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د قُربانۍ پيش کولو حکم اوشو نو حضرت سَيِّدُنا ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د **اللّٰه** پاك په حکم باندې عمل کولو د پاره د خپل شهزاده حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام قُرباني پيش کولو ته تيار شو نو حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِيَ اللّٰه عَنْه هم د خپل نيکه حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په تابعدارۍ

---

[1]...تفسيرِ خازن، پاره:4، سورۂ آلِ عمران، زيرِ آيت:183، جلد:1، صفحه:327تا328۔
[2]...معجم کبير، جلد:3، صفحه:167، حديث:4350۔
[3]...حُجَّةُ اللهِ عَلَى الْعَالَمِيْن، قسم:ثاني، باب:اول، صفحه:163۔

کښې منښته اوکړه چې که **اللّٰه** پاك ما ته لس ځامن راکړل نو زه به د شُکرانے په طور په هغوئي کښې يو [ځوئ] د **اللّٰه** پاك د رضا د پاره ذبح کووم. **اِمام جَلَالُ الدِّين سُيُوطِی** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللهُ عَنْه په تَندي مبارَك کښې د مُصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور ځليدلو، د هُم هغه مُبَارَك نُور په بَرَکت هغوئي ته اِلهَام شوے وو (يعني د **اللّٰه** پاك له طرفه د هغوئي په زړه کښې دا خبره اچولے شوي وه، نو په هغې باندې عمل کولو د پاره) هغوئي د خپل ځوئ د قربانولو منښته کړې وه. (1) بَهَرحال! د حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نيکه حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللهُ عَنْه خواهش پوره شو، **اللّٰه** پاك هغوئي ته لس ځامن عطا کړل. يوه ورځ حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللهُ عَنْه د کعبے شريفې خوا ته نِزدې آرام کولو، خوب ئې اوليدلو، يو وينا کوونکے وائي: اے **عَبْدُ الْمُطَّلِب!** خپله منښته پوره کړه...!! حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللهُ عَنْه رابيدار شولو، ټول ځامن ئې راجمع کړل او هغوئي ته ئې د خپلې منښتې مُتَعَلِّق اووئيل، ټولو ځامنو په ادب سره عرض اوکړو: پلاره! خپله منښته پوره کړئ، په مونږ کښې چې کوم يو غواړئ تاسو قربانولے شئ.

روايت دے چې د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم والِدِ **مُحتَرَم** حضرت **عَبْدُ اللّٰه** رَضِیَ اللهُ عَنْه د ټولو نه اوَّل د حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللهُ عَنْه اطاعت اوکړو او خپل ځان ئې د قُربانۍ د پاره پيش کړو خو حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللهُ عَنْه خپلو ټولو ځامنو ته اوفرمائيل: په غشو باندې خپل خپل نوم اوليکئ او ما ته ئې راکړئ! ټولو ځامنو فوراً په حکم باندې عمل اوکړو، حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللهُ عَنْه هغه ټول غشي واخستل، د خانۀ کعبے شريفې خادم ته ئې ورکړل او ورته ئې اوفرمائيل: په دې کښې قُرعه اندازي اوکړه! او پخپله حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللهُ عَنْه په دُعا کښې مَصروف شولو، د **اللّٰه** پاك په

---

[1] ...رسائل امام جلال الدين، مسالكِ حُنَفاء، مسلک: ثانی، صفحه:38۔

بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: يَـا اِلٰـهي! ما د يو بچي قربانولو منښته کړې ده، ته چې کوم خوښوے، په قُرعه اندازئ کښې د هغه نوم را اوباسې. [1]

د خوږ نبـي والِدِ ماجِد حضرت عَبْدُ الله رَضِیَ اللہ عَنْہ په ټولو وروڼړو کښې وړوکے هم وو او حضرت عَبْدُ المُطَّلِب رَضِیَ اللہ عَنْہ ته د ټولو نه زيات ګران هم وو خو د الله پاك قُدرَت ته اوګورئ چې په قُرعه اندازئ کښې د حضرت عَبْدُ الله رَضِیَ اللہ عَنْہ نوم را اُوختلو. الله! الله...!! حضرت عَبْدُ المُطَّلِب رَضِیَ اللہ عَنْہ خپل ربّ سره کړې وعده پوره کولو د پاره پوره جذبه کښې وو، د "الله د مَحبَّت" پرې دومره غلبه چې په يو لاس ئې د حضرت عَبْدُ الله رَضِیَ اللہ عَنْہ مټ اونيولو او په بل لاس کښې ئې چاړه را واخستله او د منښتې پوره کولو د پاره تيار شو.

اے عاشقانِ رَسُول! ځوئ او هغه هم د ټولو نه خوږ، او بيا په خپلو لاسو ذبح کول، زړه دا ځنګه برداشت کولے شي خو قربان شم چې! د دې خاندان عجيبه شان دے! په سوونو کاله وړاندې د دې خاندان د نيکونو نيکه حضرت اِبراهيم خَلِيلُ الله عَلَيْهِ السَّلام د عربو په دې شګلنه زمکه باندې د الله د مَحبَّت په غلبه کښې د خپل خوږ شهزاده حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلام په مرئ چاړه اينښودې وه او د الله پاك د مَحبَّت په ازمينښت کښې کامياب شوے وو او ټول جهانونه ئې حيران کړې وو، نن د هغوئي شهزاده عَبْدُ المُطَّلِب رَضِیَ اللہ عَنْہ بيا د هُم هغه قِصّے تازه کولو د پاره تيار دے، الله! الله!....!! نه ئې په تَندې کښې څه ګونجه، نه ئې په سترګو کښې څه لـمدوالے، اګرچې د پلار زړه دے خو د الله په عِشق کښې داسې مضبوط دے چې نه ئې د زړه حَرَکت بےواره کيږي او نه ئې لاس رپيږي، او ورسره حضرت عَبْدُ الله رَضِیَ اللہ عَنْہ ته اوګورئ! د الله پاك په مَحبَّت

---

[1] ...شرحِ زُرقانی علی مواہب، مقصد: اول، ذکر: حفر زمزم، جلد: 1، صفحه: 176تا177 خلاصةً۔

کښې داسې فنا وو چې نه څه خطر لرې او نه څه وِيره، په تندي مبارک کښې ئې د خورِ آقا، سُلطانِ دوجهان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُور ځليږي او د خپل نيکه حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په سُنَّتو باندې عمل کولو د پاره مکمل تيار دے.

نِزدې وه چې حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ د خپل خورِ شهزاده په مرئ چاړه راښکلے وے او منښته ئې پوره کړے وے او زمکه او اسمان ئې حيران کړې وے خو د قريشو سرداران په مينځ کښې راغلل او په ډيره عاجزئ او مِنَّت زارئ ئې عرض اوکړو: اے سرداره! د څه اراده لرې؟ هغوئې اوفرمائيل: خپل ځوئ قربانووم. هغوئې اووئيل: مونږ به تاسو هيڅ کله داسې کولو ته پرېږو نه دو، تاسو د خپل ربّ په بارګاه کښې عُذر پيش کړئ! نن که تاسو ځوئ قربان کړو نو ټول به ستاسو پيروي کوي او هم دا طريقه به رائج شي. (1) حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ په ډيره زياته جذبه کښې اوفرمائيل:

عَاهَدْتُهٗ وَاَنَا مُوْفٍ عَهْدَهٗ | وَاللهِ لَا يُحْمَدُ شَيْءٌ حَمِدَهٗ

د **الله** پاك د حمد و ثنا په شان حمد و ثنا د بل چا نشته، په الله مې دِ قَسَم وي! زه به د خپل ربّ كريم سره كړي وعده ضرور پوره كووم.

اِذَا كَانَ مَوْلَايَ وَكُنْتُ عَبْدَهٗ | نَذَرْتُ نَذْرًا لَا اُحِبُّ رَدَّهٗ

هغه زما مولا دے، زه د هغه بنده يم او ما د هغه د پاره منښته کړې ده، نو زه د هغې خلاف کول نه خوښووم.

وَلَا اُحِبُّ اَنْ اُعِيْشَ بَعْدَهٗ (2)

که زه داسې اوکړم [يعني وعده پوره نه کړم] نو بيا زه د ژوند هيڅ شوق نه لرم.

---

1...شرحِ زُرقانی علی مواہب، مقصد: اول، ذکر: حفر زمزم، جلد: 1، صفحه: 177تا178۔

2...اعلامُ النُّبُوَّة، باب: ثامِن عَشر، صفحه: 162۔

د حُضُورِ اکرَم نیکه حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رضی اللہ عنہ د خپل ځوئ قربانولو د پاره تیار دے خو د قُریشو سرداران رُکاوَټ جوړ شو، خبرې اوکړدې شوے، آخر دا فیصله اوشوه چې د ”خَیبَر“ اوسیدونکے یو کس (کوم چې هغه وخت په رائجو علومو کښې ډیر ماهر وو هغه) به فیصله اوکړي. ټول خیبر ته اورسیدل، هغه کس ته ئې ټوله خبره اوکړه، هغه چې پوره واقعه واوریدله نو د یوے ورځې مُهلَت ئې اوغوښتلو، بیا صبا له ئې خپله فیصله واوروله، هغه اُووئیل: اے د مکے خلقو! ستاسو په ځائے کښې دِیَت (یعني د مړي د وینې فِدیه) څومره ده؟ هغوئي اووئیل: لس اوښان. هغه علم لرونکے کس اووئیل: مکے ته بیرته لاړ شئ او د عبدُ الله اَو د لسو اوښانو په مینځ کښې قُرعه اندازي اوکړئ، که د عبدُ الله نوم را اووتلو نو د اوښانو شمیر زیات کړئ، تر څو پورې چې په قُرعه اندازئ کښې د اوښانو نوم نه وي راغلے، د اوښانو شمیر زیاتوئ، چې کله د اوښانو نوم را اوخیژي نو پوهه شئ چې د عبدُ الله په فِدیه کښې د دومره اوښانو په قُربانولو باندې ستاسو ربّ راضي دے. ټولو دا فیصله اومنله، چنانچه ټول مکے مکرمے ته بیرته راغلل او قُرعه اندازي شروع شوه، اوَّل لس، بیا شل، بیا په دیرشو اوښانو باندې قُرعه اندازي اوشوه، هر ځل به د عبدُ الله رضی اللہ عنہ نوم راوتلو، په قُرعه اندازئ کولو کولو چې د اوښانو شمیر سلو ته اورسیدو نو په قُرعه اندازئ کښې د اوښانو نوم را اُووَتلو، قُریشو اووئیل: بس! اے **عَبْدُ الْمُطَّلِب**! ستاسو ربّ په سلو اوښانو باندې راضي دے. حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رضی اللہ عنہ اوفرمائیل: زه **مُطْمَئِن** نه یم، وَاللّٰهِ (یعني په **الله** مې دِ قَسَم وي)! زه به درې ځله قُرعه اچووم. چنانچه درې ځله قُرعه اندازي اوشوه او دریواړه ځله د سلو اوښانو نوم را اووتلو. نو هله حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رضی اللہ عنہ

**مُطْمَئِن** شو او د حضرت **عَبْدُ الله** رَضِیَ اللہُ عَنْہ په فِديه کښې ئې سل اوښان قُربان کړل او د **الله** پاك شُکر ئې ادا کړو. (1)

د دې واقعې نه پس د حضرت **عَبْدُ الله** رَضِیَ اللہُ عَنْہ لقب "**ذَبِيْح**"(يعني د **الله** پاك په بارګاه کښې خپل ځان د قُربانۍ د پاره پيش کوونکے) مشهور شو. حضرت اَمِير مُعاوِيه رَضِیَ اللہُ عَنْہ فرمائي: يو اَعرابي په بارګاهِ رِسالَت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې حاضر شو او اوئې وئيل: **يَا ابْنَ الذَّبِيْحَيْن!** اے د دوو ذبيحانو ځويه! رَسُولِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې دا واوريدل نو مُسکے شو. د حضرت اَمِير مُعاوِيه رَضِیَ اللہُ عَنْہ نه تپوس اوکړے شو: دا دوه ذَبيحان څوك دي؟ اوئې فرمائيل: يو حضرت اسماعيل عَلَیْہِ السَّلَام او دويم د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم والِدِ مُحتَرَم حضرت **عَبْدُ الله** رَضِیَ اللہُ عَنْہ دے. (2)

خُدائے پاک کے حامِد ہیں پیارے عبداللہ　　بڑے ہی عابِد و زاہِد ہیں پیارے عبداللہ
شک ان کے ایماں پہ کرنے سے پہلے یاد رکھو　　مرے رسول کے والد ہیں پیارے عبداللہ
نبی کے صدقے میں کیا کیا عنایتیں نہ ہوئیں　　ہو چشمِ عَدل تو شاہِد ہیں پیارے عبداللہ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چې تير شوو انبيائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام او د هغوئي ايماندارو اُمَّتيانو باندې د **الله** پاك د رضا د پاره قُرباني مقرره وه هغوئي به قرباني کوله، د الله پاک شُکر به ئې ادا کولو او د قُربانۍ په ذريعه به ئې د **الله** پاك قُرب حاصلولو او **الله** پاك به ئې راضي کولو.

**اے عاشقانِ رَسُول! اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** زمونږ خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هم قُرباني کوله او

---

[1]...شرحِ زُرقانی علی مواہب، مقصد: اول، ذکر: حفر زمزم، جلد:1، صفحہ:177تا178خلاصۃً۔

[2]...مستدرک، کتاب: تواریخ، باب: بیانِ اختلاف، جلد:3، صفحہ:424، حدیث:4090۔

د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُمَّت كښې هم په هر هغه كس چې صاحِبِ نِصاب دے يعنې چا سره چې ووه نيمې تولے سره زر، يا دوه پنځوس نيمې تولے سپين زر وي، يا د دې برابر رقم وي نو د نورو شرطونو پوره كيدلو په صورت كښې په هغه باندې قُرباني واجِب ده او ياد لرئ! د قُرباني واجِب كيدلو د پاره په نِصاب باندې كال تيريدل شرط نه دي. بلكه د ذُوالحجه د 10 تاريخ د صبا صادق نه د 12 تاريخ لمَـر پريوتو پورې يعنې په دې درې ورځو او دوو شپو كښې چې كله هم د نِصاب مالِك شو نو قُرباني پرې واجِب ده. (1)

د قُربانۍ او د دې مُتَعَلِّق تفصيلي احكام او مسائل زده كولو د پاره د ❁ بهارِ شريعت جلد3 حِصَّه:15 نه قُربانی کا بیان اولولئ، د ❁ شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رِساله "ابلق گھوڑے سوار" [پښتو كښې "په برَګ اَس سور سرے"] هم په دې موضوع ده، په دې كښې په ډير اسان انداز كښې د قُربانۍ بعضې احكام او مسائل او احتياطونه ليك دي، ❁ دغه شان د دعوتِ اسلامي د آئي.ټـی ډيپارټمنټ له طرفه يو موبائل ايپلي كيشن جاري شوے دے، چې نوم ئې ***Qurbani Collection App*** (قربانی کولیکشن ایپ) دے، په دې ايپ كښې د قُربانۍ د خاروو مُتَعَلِّق تفصيلي معلومات، د قُربانۍ مُتَعَلِّق د دارُ الاِفْتَاءِ اَهلِسُنَّت فتوے، د قربانۍ مكمله طريقه وغيره شامل دي ، په خپل سمارټ فون كښې دا ايپلي كيشن انسټال كړئ، پخپله هُم ترېنه فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب وركړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]…بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:334، حصه:15۔

# قُرباني سُنَّتِ انبياء او سُنَّتِ مصطفٰی دے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! قُرباني کول ډير د ثواب کار دے، قُرباني کول د **اللّٰه** پاك رضا کولو والا کار دے، قُرباني کول د **اللّٰه** پاك د قُرب سبب دے، قُرباني کول سُنَّتِ ابراهيمي دے، قُرباني کول سُنَّتِ انبياء دے او قُرباني کول زمونږ د خوږ حبيب، آخري نبـي، **مُحَمَّدِ** عَرَبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم خوږ خوږ سُنَّت دے.

د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دے چې د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حکم باندې د تورو ښپو، تورې خيټې او تورو سترګو والا ګډ حاضر کړے شو، خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د چړې تيره کولو حکم اوکړو، بيا هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چاړه را واخستله، ګډ ئې څملولو او په خپلو لاسو مبارکو ئې ذَبح کړو، بيا ئې دا دُعا اوفرمائيله:

بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُّحَمَّدٍ وَمِنْ اُمَّةِ مُحَمَّدٍ

**ترجمه**: د اللّٰه په نوم، اے **اللّٰه پاكه**! د **محمَّد** له طرفه او د **مُحمَّد** د اُمَّت له طرفه دا قرباني قبوله کړې.(صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) **(1)**

په **بُخاری شريف** کښې د حضرت اَنَس رَضِىَ اللّٰهُ عَنْه نه روايت دے، خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکرو والا دوو برګو ګډانو قُرباني اوکړه، هغه ئې په خپلو لاسو مبارکو ذَبح کړل او د ذبح په وخت ئې بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَكْبَرُ اولوستلو.

اے عاشقانِ رَسُول! په مُعَاشَره کښې بعضې خلق داسې هم شته چې په عامو حالاتو کښې خو ښې برګرې، او پيزے خورې، چرګان او د ورړوکي او غټ ښاروي غوښو

---

[1]...مسلم، کتاب:الاضاحی، صفحه:782، حديث:1967۔

باندې ښې مزې کوي خو چې کله د قُربانۍ موقع راشي نو بيا ورته په څاروو باندې رحم کول ورياد شي.

د داسې ناپوهه خلقو د پاره د سوچ مقام دے، اوګورئ! زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واحد هستي ده چا ته چې د **رَحۡمَةٌ لِّلۡعَالَمِين** کيدو شرف حاصل دے، پخپله **الله** پاك د هغوئي په شان کښې فرمائي:

وَ مَاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا رَحۡمَةً لِّلۡعٰلَمِیۡنَ ۝۱۰۷ (پاره17،سورة الانبياء:107)

مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان: او مونږه تاسو د ټول جهانونو د پاره رحمت جوړ کړے ليږلي ئې.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټول رحمت رحمت دے ❁ زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د انبياؤ د پاره رحمت دے ❁ زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرښتو د پاره رحمت دے ❁ زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيريانو د پاره رحمت دے ❁ زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وَنو بوټو او بے ساه څيزونو د پاره رحمت دے ❁ زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې جهان د پاره رحمت دے ❁ زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آخرت د پاره هُم رحمت دے ❁ او بيشکه زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ځناورو او څاروو د پاره هم ضرور رحمت دے ❁ زمونږه خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو د پاره رحمت جوړ شوے تشريف راوړے دے، خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو هغه دے چې د ځناورو په سترګو کښې اوښکې نه شي برداشت کولے ❁ زمونږ د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې خو ځناور هم فرياد کوي ❁ زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څاروو ته په ورځ کښې اويا ځله د ګيا اچولو حكم فرمائيلے دے ❁ زمونږ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ځناورو کم بوج وړلو حكم کړے دے ❁ زمونږ خوږ

نبــي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو په دُنيا كښې هغه عَظِيمُ الشَّان، ډير زړه سواندي هستي ده چا چې باقاعده د ځناورو حقونه مقرر كړي دي، نو چې كله دا رَحمَتِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **الله** پاك په حكم عمل كوي، په خپلو لاسو مباركو څاروے ذَبح كوي نو دا د دې خبرې دليل دے چې د **الله** پاك په حكم باندې د عمل كولو مطابق په جائزه طريقه څاروے ذَبح كول هيڅ كله ظُلم نه دے، كه دا ظُلم وے نو **رَحۡمَۃٌ لِّلۡعَالَمِين** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به كله هم داسې نه كولو او **الله** پاك چې **رَحۡمٰن** هم دے، **رَحِيۡم** هم دے، كله به ئې داسې حكم ارشاد نه فرمائيلو.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د قُربانئ په موقع باندې بعضې ناپوهه خلق د غريبانو د پاره فِكرمند ش، هسې خو كه په ودونو باندې لكونه روپئ خرچ كړي، د اختر سامانونه كپړے اخستل اګرچې لكونه پرې اولګوي، كه په غټو ګرانو هوټلو كښې دعوتونه اوخوري، كه د ماشوم په سالګره باندې شپې ډيرې روپئ خرچ كړي، نو غريبان نه ورياديږي خو چې كله د قربانئ موقع وي ياد د **رَبِيۡعُ الۡاَوَّل** لائټونه لګي او ښكلا كيږي نو بيا غريبانان ورياد شي، د دې ناپوهه خلقو د معلوماتو د پاره عرض دے چې اِسلام چا ته صرف د خپل زړه په خواهشاتو نه ورزده كوي، اسلام خود غرضي، نفساني خواهشات او تَكَبُّر ختموي، صرف د **الله** پاك او د هغه د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت كول ورزده كوي، د لفظِ اسلام معنٰی ”سر ښكته كول“ ده او مسلمان هم هغه ته وائي څوك چې د **الله** پاك او د هغه د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداري كوي

لِهٰذا مسلمان به خپله خوښه نه كوي بلكه د مسلمان كار دے په پټو سترګو د **الله** پاك او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت كول. او **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** مسلمان هم داسې كوي، ۞ چې كله د الله او رَسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حكم وي چې زكوٰة ادا كړئ!

نو مسلمان د خپل مال نه زکوٰة اوباسي او د غريبانو مالي مدد کوي ❁ چې کله حکم وي چې صدقهٔ فِطر[يعنې سرسايه] ادا کړئ! نو مسلمان د سرسايه ادا کولو په ذريعه د غريبانو د اختر خوشحالئ زياتوي او ❁ چې کله حکم وي چې د قُربانئ په ورځو کښې خاروي قُربانول د **اللّٰه** پاك په نِزد د ټولو نه غوره عمل دے نو مسلمانان په شوق، محبت او د زړه په خوشحالئ سره ښه، غټ، ښکلے ښکلے، قيمتي خاروے د **اللّٰه** پاك د رضا د پاره قربانوي، او د هغې د غوښو تقسيمولو په ذريعه د غريبانو مدد کوي او د دې خبرې عملي مظاهره کوي چې دا خاروے څه چې که د **اللّٰه** پاك او د هغه د حبيب صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکم اوشي نو د خپل سر قُربانولو نه به هُم په شا نه شم بلکه

| | |
|---|---|
| یہ اک جان کیا ہے، اگر ہوں کروڑوں | تیرے نام پر سب کو وارا کروں میں(1) |

او هُم دا خيز يعنې د **اللّٰه** پاك حکم په پټو سترګو منل، دا په اصل کښې "سُنَّتِ اِبراهيمي" دے. **اللّٰه** پاك د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په شان کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِذْ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗۤ اَسْلِمْ ۙ قَالَ اَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۳۱﴾ (پارہ1،سورۃالبقرۃ:131) | مفهوم ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او ياد کړه چې کله د هغه رب هغه ته اوفرمائيل: فرمانبرداري اوکړه، هغه عرض اوکړو: ما فرمانبرداري اوکړه د هغه، څوک چې د ټول جهان پالونکے دے. |

محبت بے اِطاعت ایک دھوکہ ہے محبت کا
محبت کا جو دعویٰ ہے تو کوشش کر اِطاعت میں

او ډاکټر اقبال هم څه ښکلي وئيلي دي:

1 ...سامانِ بخشش، صفحه:152۔

عقل کو تنقید سے فُرصت نہیں | عشق پر اَعمال کی بنیاد رکھ

**ترجمه:** د عقل كار خو تنقيد كول دي ته په عِشق باندې د اعمالو بنياد كيږده.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قُربانۍ په فضائلو باندې احاديث

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! قُرباني كول د **الله** پاك حكم دے، قُرباني كول د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دے، د **الله** پاك رضا حاصلولو د پاره په مينه **محبت** قُرباني اوكړئ. ❁ **اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن** حضرت عائشه صِدّيقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي: خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: د نحر (يعني 10 ذوالحجه) په ورځ د **الله** پاك په نِزد د ټولو نه خوښ عمل وينه توئيول (يعني قُرباني كول) دي، بيشكه د قُربانۍ ځاروي به په ورځ د قيامت د خپلو ښكرو، ويښتو، ښنګرو سره راځي او بيشكه د قُربانۍ د ځاروي وينه په زمكه لويدو نه مخكښې مخكښې د **الله** پاك په بارګاه كښې قبوله شي، لِهٰذا د زړه په خوشحالۍ سره قُرباني اوكړئ.[(1)] ❁ د حضرت **زَيْد بِن اَرْقَم** رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه نه روايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ستاسو د پاره د قُربانۍ د ځاروي د هر ويښته په بدل كښې يوه نيكي ده.[(2)] ❁ د اِمام حَسَن رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه نه روايت دے چې خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې د زړه په اخلاص سره د ثواب د پاره قُرباني اوكړي، د هغه قُرباني به د هغه او جَهَنَّم په مينځ كښې پرده [رُكاوټ] جوړه شي.[(3)] ❁ د "سُنَن

---

[1]...ترمذی، کتاب:الاضاحی، باب:فی فضل الاضحیه، صفحه:383، حدیث:1493۔

[2]...ابن ماجه، کتاب:الاضاحی، باب:ثواب الاضحیه، صفحه:510، حدیث:3127۔

[3]...معجم کبیر، جلد:2، صفحه:213، حدیث:2670۔

کُبْرٰی'' روایت دے چې خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: بیشکه د **الله** پاك په بارګاه کښې د ټولو نه زیاته خوښه قُرباني هغه ده کومه چې په قیمت کښې اعلٰی او ښه غټه تازه وي.[(1)] ❁ په یو روایت کښې نبـي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: د بوډا ښاروي په مُقابَله کښې د ځوان ښاروي قُرباني د **الله** پاك په بارګاه کښې زیاته خوښه ده.[(2)]

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دویم آیت د الله پاك په نِزد تقوٰی مقبوله ده

په سیپاره17، سورۂ حج، آیت: 37 کښې **الله** پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ؕ (پاره17، سورۃالحج:37) | مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: الله ته هیڅ کله نه د هغې غوښې رسي او نه وینه، البته ستاسو له طرفه پرهیزګاري د هغه بارګاه ته رسي. |

په ''تَفْسِیْرِ صِراطُ الجِنَان'' کښې د دې آیت نه لاندې لیك دي: د جاهِلیَّت په زمانه کښې به کافرو د خپلو قُربانو په وینه باندې د کعبے شریفې دیوالونه ککړول او دا به ئې ګڼړل چې په داسې کولو مونږ ته د **الله** پاك قُرب نصیب کیږي. بیا چې کله اسلام راغے، صحابهٔ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوان حج اوکړو، قربانۍ ئې پیش کړې نو د هغوئي عَلَیْهِمُ الرِّضْوان د تعلیم د پاره دا آیتِ کریمه نازل شو او اووئیل شو چې د **الله** پاك بارګاه ته نه خو د قُربانۍ غوښه رسي او نه ئې وینه رسي، آو! ستاسو له طرفه تقوٰی، پرهیزګاري د **الله** پاك بارګاه ته رسي او قُرباني کوونکے صرف په ښه نِیَّت د اِخلاص او تقوٰی په

---

[1]...مسند امام احمد، جد ابي الاشد، جلد:6، صفحه:375، حديث:15893۔

[2]...سنن کبری بیهقی، کتاب:ضحایا، باب: یستحب ان یضحی، جلد:9، صفحه:507، حدیث:19092۔

شرائطو باندې د عمل کولو په ذریعه **اللّٰه** پاك راضي کولے شي. (1)

جانتا ہے بارگاہِ حق کے آئین واُصول؟ | دِل کے ٹکڑوں کی یہاں پرنذر ہوتی ہے قبول

**د شعر ترجمه**: آیا تاسو ته پته ده چې د **اللّٰه** پاك د بارګاه قانون او اُصول څه دي؟، په هغه بارګاه کښې خو صرف د زړه د ټکړو نذر [یعني صرف تقویٰ او اخلاص] قبلیږي.

اے عاشقانِ رَسُول! د تقوٰی واضحه او ساده مفهوم هم دا دے چې تقوٰی د ګناهونو نه او د **اللّٰه** پاك د نافرمانۍ نه د بچ کیدلو نوم دے او په حدیثِ پاك کښې ارشاد دے چې مُتَّقِـی ته مُتَّقِـی ځکه وائي چې هغه د حرج [یعني ملامتیا] او ګناه والا کارونو کښې د اخته کیدو د ویرې نه هغه کارونه هم پریږدي په کومو کښې چې شرعاً څه حرج [یعني ملامتیا] نه وي. (2)

## قُرباني او د تقوٰی تقاضے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان شوي آیت نه معلومه شوه چې خپله قُرباني د قبلولو لائق جوړولو د پاره د تَـقْـوٰی په تقاضو عمل کول ضروري دي، مَثَلاً ❁ قُرباني د ښودنې د پاره نه بلکه اِخلاص سره کول پکار دي ❁ قُرباني د څه دُنیاوي فائدے د پاره نه بلکه صرف د **اللّٰه** پاك د رضا حاصلولو د پاره کول پکار دي، ❁ د ښاروي په لیدلو، اخستلو کښې چې څه غیر شرعي کار اونشي، د دې خیال دِ اوساتلے شي ❁ قَصَّاب سره مُعامَله طے کولو کښې دِ د "اِجارے شرعي اُصولو" باندې عمل اوکړے شي ❁ د قَصَّاب مزدوري دِ پوره او په وخت ورکړے شي ❁ د قُربانۍ ښاروے په کوڅه

1...صراط الجنان، پاره:17، سورۂ حج، زیرِ آیت:37، جلد:6، صفحه:447۔
2...منهاج العابدین، صفحه:159۔

کښې ترل نه دي پکار ځکه چې د دې په وجه په لاره تلونکو ته تکليف رسي، ❁ د قُرباني په وخت کښې بعضې وخت خلق لاره بندوي، د دې په وجه د خلقو حقوق ضائع کيدے شي ❁ په عامو لارو کښې قُرباني کيږي، په داسې صورت کښې د حُقُوقُ العِباد خيال ساتل پکار دي ❁ په کوڅو کښې وينه پرته پريښودل نه دی پکار، ځکه چې په دې په لاره د تلونکو جامې ګنده کيدے شي ❁ لرے، کولمې او د خيټې نور ګند وغيره په کوڅه کښې غورزول نه دي پکار ❁ الغرض قُرباني کولو کښې د پاکئ، صفائي پوره پوره خيال ساتل پکار دي ❁ د اجتماعي قُربانۍ په صورت کښې غوښه د شرعي اُصولو مطابق تقسيمول ضروري دي، ❁ د قُرباني د څرمنې ورکولو مو که د چا سره وعده کړې وي نو هغه ته ئې په وخت حواله کړئ ❁ بعض ناپوهه خلق د قُربانۍ په په وجه مَعَاذَ الله! د جَمعې لمُونځ پريږدي يا بعضې لمُونځونه قضا کوي او هغوئي دا بهَانے کوي چې ❁ قصَّاب ناوخته راغلے وو ❁ قُرباني کولو کولو کښې رانه د جَمعې وخت تير شو ❁ په جامو مې وينه لګيدلې وه، ځکه را نه لمُونځ قَضا شو وغيره، الغرض د قُربانۍ څاروے اخستلو نه واخله ذَبح کولو او غوښه تقسيمولو پورې هر هغه کار چې د ګناه دے يا د هغې په وجه په ګناه کښې د اخته کيدو انديښنه وي، د هغې نه بچ کيدل د تَقْوٰی تقاضا ده او په قُربانۍ کښې د تَقْوٰی په تقاضو باندې عمل کول، قُرباني د **الله** پاك په بارګاه کښې د قبلولو لائق جوړوي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!		صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د **تَقْوٰی** په تقاضو کښې دي چې قُرباني کولو کښې ❁ د اِخلاص جذبه هم وي ❁ د قُربانۍ جذبه هم وي ❁ د **الله** پاك رضا د پاره د

ځان او مال قربانولو پخه اِراده هم وي ❁ چې کله د څاروي په مرئ چاړه کيښودے شي نو کاش چې د بنده په زړه کښې د الله داسې مَحَبَّت وي چې ❁ په زړه کښې د **الله** پاك په بارګاه کښې عرض کوي: مولا! د څاروي د قُربانۍ حکم اوشو، زه ستا د رضا د پاره قُرباني کووم. ❁ يا الله! نفساني خواهشات قُربانول او ستا د رضا والا کارونه کول هم ستا خوښ دي، مولا! د نن نه ستا د رضا د پاره نَفسِ اَمَّاره هم وژنم، د نن نه پس به هيڅ کله هُم د نفس و شيطان په دوکه کښې نه راځم او ستا نافرماني به نه کووم ❁ اے پروردګاره! نن ستا په حکم څاروے قُربانووم، ستا د رِضا د پاره، ستا د دِين د پاره به د وخت قُرباني هم ورکووم ❁ مولٰی! چې کله مُؤَذِّن حَیَّ عَلَی الْفَلَاح اووائي: نو د خوب، دُکان، کاروبار او دُنياوي کار قُرباني به ورکووم او فوراً به جمات ته حاضريږم، ❁ يا الله! ستا د رِضا د پاره که زما د ځان قُربانولو موقع پيښه شي نو هُم اسره به نه کووم.

اے عاشقانِ رَسُول! چې کله د قُربانۍ څاروے څملوئ، د هغې په مرئ چاړه کيږدئ، نو هغه وخت د هغه عظيمې قُربانۍ تَصَوُّر اوکړئ، د کومې په ياد کښې چې څاروي قُربانيږي، الله! الله! ... تَصَوُّر خو اوکړئ! حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلام ته د خپل ځوئ [حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلام] قربانولو حکم شوے وو، د حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلام عُمر مبارك 90 کاله وو چې حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلام پيدا شو، لا د پئيو څښلو عُمر ئې وو چې حکم اوشو: ابراهيم! ځوئ او د دوئي والده [حضرت هاجره ] په مکه مکرمه کښې پريږده، مکه مکرمه هغه وخت کښې بالکل غير آباده وه، حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلام د **الله** پاك د رِضا حاصلولو د پاره خپل ځوئ حضرت اسماعيل عَلَيۡهِ السَّلام او د هغوئي والِده مکے مکرمے ته راوستل او هلته ئې پريښودل، نه ئې تندے تريو شو او نه ئې د **الله** پاك په بارګاه کښې څه مجبوري بيان کړه، بس د الله په مَحَبَّت کښې ئې ښه په

خوشحالئ د خپل بچي او بي بي جدائي برداشت کړه. خو

ابھی عشق کے امتحاں اَور بھی ہیں

يعني اوس لا د عشق نور امتحانونه هُم راتلونکي دي

د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلام عمر مبارك چې ووه [7] يا ديارلس كاله شو نو په خوب کښې ورته د څوئ د قُربانئ حکم اوشو، د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلام خوب هُم وحيِ اِلٰهي وي، حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام د الله له طرفه په خوب کښې شوي حکم باندې عمل اوکړو، رسئ او چاړه ئې راواخستله، خپل خوږ وړوکے شهزاده حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلام ئې ځان سره روان کړلو، چې مِنٰی ته راغلل نو څوئ ته ئې د **الله** پاك حکم واورولو، قابِله او فرمانبردار څوئ ئې په تابعدارئ کښې سر ښکته کړو او په ادب سره ئې عرض اوکړو:

قَالَ یٰۤاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ٘ سَتَجِدُنِیْۤ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۱۰۲﴾

(پاره23،سورةالصّٰفّٰت:102)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: څوئ ورته اووئيل: اے زما پلاره! تاسو هُم هغه څه اوکړئ د څه چې تاسو ته حکم شوے دے، اِنْ شَآءَاللّٰه نِزدې ده چې تاسو به ما د صبر کوونکو نه اومومئ.

والِد هم نبي، څوئ هم نبي، دواړه د الله په مِينه کښې فنا او دواړه د **الله** پاك په بارګاه کښې د قُربانئ پيش کولو د پاره تيار، حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام د خپل شهزاده [حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلام] لاسونه اوتړل او خملولو ئې او چاړه ئې ورته په مرئ کيښوده.

اَللّٰه! اَللّٰه!....!! د مِنٰی په ميدان کښې عجيبه منظر دے، د اسمان دروازے بيرته کړے شوي دي، فرښتے دا عجيبه او حيرانوونکے منظر وِيني او په ژړا ژړا کښې وائي: د دوئي حق دے چې **الله** پاك ئې خپل خليل جوړ کړي.

**اَللّٰهُ اَکْبَرُ!** حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام د خپل ځوئ په مرئ چاړه کيښودله او په زور ئې راښکوده خو چړې کار اونکړو، دې خبرې ته چې غور اوکړئ نو دا يو مَعقُول عُذر وو، چې حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام د **الله** پاك په بارګاه کښې عرض کړے وے: چې اے زما مالِکه! ما د خپل ځوئ په مرئ چاړه راښکوده، په حکم مې عمل اوکړو، خو يا **الله** چاړه کټ کولو ته تياره نه ده نو زه څه کولے شم، خو حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام داسې اونکړل، عُذر ئې پيش نه کړو بلکه د **محبت** په جوش کښې ئې چاړه په کاڼړې تيره کړه، بيا ئې [د حضرتِ اِسمٰعِيل عَلَيهِالسَّلام په مرئ] راښکوده خو اُونه چليده، بيا ئې تيره کړه، بيا ئې پرې را اُولګوله خو اونه چليده، په دريم ځل ئې بيا تيره کړه تر دې پورې چې چاړه د اور د شعلے په شان اوپړقيدله، بيا ئې په پوره قُوَّت سره اوچلوله خو د **الله** پاك قُدرت چې چړې مرئ کټ نه کړه.

حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلام عرض اوکړو: پلاره! ما پړمخ څملوئ، ځکه چې تاسو زما مخ وينئ نو تاسو ته رحم راځي او دا رحم د **الله** پاك په فرمانبردارئ کښې رُکاوَټ جوړيږي، بيا حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام خپل شهزاده پړمخ څملولو، او چاړه ئې پرې را اولګوله خو دا ځل هُم چاړه اونه چليده او غږ اوشو:

| | |
|---|---|
| يّٰۤاِبۡرٰهِيۡمُ ﴿۱۰۴﴾ قَدۡ صَدَّقۡتَ الرُّءۡيَا ۚ<br>(پاره23،سورةالصّٰفّٰت:105104) | مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: اے ابراهيم! بيشکه تا خوب رښتينے کړو. |

حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلام د جنَّت نه ګډ راوستو او حاضر ئې کړو او د **الله** پاك په حکم د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلام په فِديه کښې هغه ګډ ذبح کړے شو. [1] اے عاشقانِ رَسُول! دا ده د اِخلاص جَذبه! دا ده د مَحَبَّت جذبه.... خو افسوس چې اوس نه

---

1 ... حاشيه صاوی علی جلالين، پاره:23، سورهٔ صٰفّٰت، جلد:3، صفحه:123تا125۔

په خلقو کښې هغه وينه پاتې ده، نه هغه زړه او نه پکښې هغه خواهش پاتې دے.

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام او د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلام د هُم دې اِخلاص د جَذبے په ياد کښې مونږه ځاروي قُربانوو. اوس اندازه اوکړئ! څوك چې ځاروے قُربانوي او د الله د مَحَبَّت او د اِخلاص د جذبے ياد مناوَوِي، آيا هغه به د ربِّ کريم نه بل طرف ته تَوجُّه واړوي او رياکاري به کوي؟ آيا هغه به د بندګانو حقونه ضائع کوي؟ آيا هغه به د قُربانئ په بهانه لمُونځونه قَضا کوي؟ هيڅ کله نه، ځکه چې اے د مَدَني جانان عاشقانو! قُرباني خو د مَحَبَّتِ اِلٰهي ياد او له خپله طرفه د محبَّتِ اِلٰهي عملي اِظهار دے يا داسې اوګڼړئ چې پخپله قُرباني دا تقاضا کوي چې څنګه نن مونږه قيمتي ځاروے د **الله** پاك په حکم قربانوو، دغسې پکار ده چې د **الله** پاك د رضا د پاره ځان هُم د ټولو ګناهونو بچ اوساتلے شي، تقوٰی اِختيار کړے شي، او چې کله د **الله** پاك حکم راشي نو بيا وخت، مال، خواهشات بلکه خپل ځان هم قُربان کړے شي، **الله** پاك فرمائي:

| | |
|---|---|
| قُلْ اِنَّ صَلَاتِيْ وَ نُسُكِيْ وَ مَحْيَايَ وَ مَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶۲﴾ (پاره8،سورةالانعام:162) | مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: تاسو اوفرمائې! بيشکه زما لمُونځ او زما قربانئ او زما ژوند او زما مرګ ټول د الله د پاره دي چې هغه د ټولو جهانونو ربّ دے. |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دريم آيت: بُدْنَه د شَعَآئِرُ الله نه ده

په سيپاره17، سورهٔ حج، آيت: 36 کښې **الله** پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ الْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا لَكُمْ مِّنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ | مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: او د قُربانئ د لوئ بدن والا ځاروي مونږه ستاسو د پاره د الله د نښو نه يوه نښه |

(پاره17،سورةالحج:36) جوړ کړي دي. په دې کښې ستاسو د پاره خير دے.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې آيت کښې اووئيل شو چې **بُدْنَه** د شَعَائِرُ اللّٰه نه ده او په دې کښې زمونږ د پاره خير دے، په "**تَفسِيْرِ صِراطُ الْجِناَن**" کښې دي: د احنافو په نِزد د **بُدْنَه** نه مراد اوښ يا غوا ده او د آيت معنٰی دا ده چې **اللّٰه** پاك د قُربانۍ غټ بدن والا ځاروي د مسلمانانو د پاره د خپل دِين د نښو نه يوه نښه جوړ کړي دي.(1)

د دِين د شَعَائِرو د عِزَّت و تکريم مُتَعَلِّق **اللّٰه** پاك ارشاد فرمائي:

وَ مَنْ یُّعَظِّمْ شَعَآىِٕرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ﴿۳۲﴾ (پاره17،سورةالحج:32)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: او څوك چې د اللّٰه د نښو تعظيم اوکړي نو دا د زړونو د پرهيزګارۍ نه ده.

يعني د **اللّٰه** پاك د نښو تعظيم کول د زړونو د پرهيزګارۍ علامت دے.

مُفسّرِ قرآن، حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د قُربانۍ غوا، اوښ ښائسته کول، هغه ګرځول ټول جائز دي چې دا د شعائرُ اللّٰه تعظيم دے، او د شعائرُ اللّٰه تعظيم د اِيمان اصل دے، د قُربانۍ تعظيم دا دے چې په هغې ښه خوراك ښښاك اوکړي، ښه ئې څورب کړي، په خوشحالۍ ئې ذبح کړي، بے ضرورته پرې سورلي اونکړي، د هغې شوده اونه څښي، چې قربان ئې کړي نو د هغې غوښه د تبرك په طور اوخوري.(2)

1 ...صراط الجنان، پاره:17، سورۂحج، زيرِآيت:36، جلد:6، صفحه:444۔
2 ...تفسير نور العرفان، پاره:17، سورۂحج، زيرِآيت:36، صفحه:404ملتقطاً۔

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!	صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## څاروو ته تکلیف مه ورکوئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دِينِ اسلام د خصوصیاتو نه دي چې زمونږ په پاك دِين كښې د څاروو هم باقاعده حقوق مُقرر دي او د قُربانئ څاروے خو بیا ډېر عِزَّت والا دے، د دې تعظیم پكار دے، د دې د حقوقو رعایَت خو خاص طور ډېر ضروري دے.

خو هائے افسوس! په دې دور كښې د دِين نه د لرې والي په وجه بعض نا اَهله خلق په څاروو داسې ظُلمونه كوي چې بنده ورته كتلے نه شي، د قُربانئ په ورځو كښې لیدل شوي دي چې د منډئ نه څاروي راوړلو او خرڅولو نه واخله ذبح كولو پورې بے زبانه څاروو باندې قِسماقِسم ظلمونه كیږي، مثلاً (1) كه د لرې ځائے نه څاروي راولي نو د سفر په دوران كښې مناسب خوراك نه وركول (2) په وړو ګاډو كښې غټ څاروے، یا په لږ ځائے كښې ډېر څاروي په زور ورځائے كول، (3) څاروي ګاډي ته د خیژولو او كوزولو په وخت كښې د احتیاط نه كار نه اخستل، كله كله په تادئ كښې څاروے كوزوي نو هغه ټوپ اُووهي، او د هغې په وجه د څاروي د ښپې ماتیدو یا اووښتلو خطره وي، كله كله په داسې حالت كښې بیا څاروے د قُربانئ لائق هم پاتې نه شي، (4) په منډئ كښې د خرچے بچ كولو د پاره څاروي اوږې ساتل، (5) څاروي بے وجه وهل، بے وجه د هغې خوا ته شور كول، هغه ویرول، د هغې خوا ته فضول ګڼړه جوړول، (6) بعضې وخت د څاروي ګرځولو د پاره ماشومان او لوئ د هغې غوږونه او لكئ تاوهي او شور ورته جوړ كړي، د هغې په وجه څاروے اُویَریږي او منډې كړي. (7) د ذبح كولو په وخت قَصَّاب هم د تادئ نه كار اخلي، مثلاً د ذبح كولو نه پس څاروے لا یخ شوے نه وي، په هغې كښې روح لا پاتې وي او دوئي ترینه

خرمن ويستل شروع کړي يا د زر ساه ويستلو د پاره ئې چاړه په مرئ کښې دننه ننباسي او د زړه رګونه ئې کټ کړي او دغسې بے وجه ځاروي ته تکليف ورکوي.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! کوم ناپوهه خلق چې په ځاروو ظُلم کوي، هغوئي ته تکليف رَسَوي، هغوئي له پکار دي چې د **الله** نه اُويَريږي، امام اِبنِ حَجر مَکّي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ځوك چې ځاروي ته په ناحقه تکليف ورکړي، هغه اورېے ترېے اوساتي، د هغه نه د هغه د طاقت نه زيات کار واخلي، په ورځ د قيامت به د هغه نه دغه شان بدله واخستے شي څنګه چې هغه په ځاروي ظُلم کړے وو. (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دولسو ديني کارونو کښې يو ديني کار "جُمات درس"

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تحريك دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښې د قرآن و سُنَّت پيغام عام کولو کښې مصروف دے، تاسو هم د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل شئ او 12 ديني کارونو کښې په اخلاص سره خپل کردار ادا کړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ. په دې 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار "**جُمات درس**" هم دے. د دې ديني کار بےشميره ديني او دنياوي فائدے دي، ❁"**جُمات درس**" سره جماتونه آباديږي، ❁"**جُمات درس**" سره د انفرادي کوشش کولو موقع نصيب کيږي. ❁"**جُمات درس**" سره د لمُونځ کوونکو په شمير کښې اِضافه کيږي.❁د"**جُمات درس**" په برکت سره د نيکئ او خير د خبرو زده کولو او نورو ته د زده کولو موقع نصيب کيږي.

---

1 ...جهنم میں لے جانے والے اعمال، جلد:2، صفحه:323۔

## د "جُمات درس" يو مدني سپرلے

د كوټ مومن (ضلع سرگودها، پنجاب پاكستان) خوا ته نِزدې كلي لَلياني اوسيدونكي يو اسلامي وررور بيان دے چې: زه د گناهونو په تِيَرو كښې ورك ووم، د گناه كولو په وجه زما زړه سخت شوے وو، بد نظري او د مور و پلار نافرماني كول زما عادت جوړ شوي وو، زما د گناهونو ډك ژوند ته د هدايت رنړا داسې راغله چې يوه ورځ د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته يو اسلامي وررور په دعوت په درس كښې شريك شوم، د درس په الفاظو كښې داسې اثر وو چې زما زړه ته كوز شو، د گناهونو نه مې زړه تور شو، په تير ژوند مې افسوس اوكړو. آه! د ژوند يوه لويه حصه مې په غفلت كښې تيره شوې ده. د درس په ذريعه د نصيحت قيمتي ملغلرو زما زړه را ژوندے كړو، ما هُم هغه وخت توبه اوكړه او آئنده د گناه نه كولو پخه اراده مې اوكړه. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د يو څو ساعتونو د پاره زما په درسِ فيضانِ سُنَّت كښې شريك كيدل زما د ژوند او آخرت د بِهترئ ذريعه جوړه شوه. اوس زه عطاري يم، پينځه وخته د جَمعې سره لمُونځ په وړومبي صف كښې د ادا كولو سعادت حاصلووم. (1)

عطائے حبیبِ خُدا مدنی ماحول
ہے فیضانِ غوث و رضا مدنی ماحول
اگر سنتیں سیکھنے کا ہے جذبہ
تم آجاؤ دیگا سکھا مدنی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي وررونړو! د بيان په آخره كښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اوفرمائيل: "زما په نائب باندې دِ د **اللّٰه** پاك رحمت وي. عرض اوكړے شو:

---

1 ... چند گھڑیوں کا سودا، ص11 ملتقطاً۔

حُضُورا! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت كوونكے او نورو ته ښودونكے.“(1)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا جنّت كښې مې خپل جوړ كړه ګاونډي خوږه آقا

## په خلقو طعام خوړل سُنَّتِ مصطفٰى دي

دوه فرامِينِ مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (1) څوك چې په يو اُوږي كس طعام اوخوري، الله پاك به په هغه باندې د جنَّت ميوه اوخوري. (2) (2) څوك چې د خپل وررور د لوږې ختمولو اهتمام اوكړي او په هغه باندې طعام اوخوري تر دې چې هغه موړ شي نو الله پاك به د هغه [يعني د كوربه] بخښنه اوكړي. (3)

اے عاشقانِ رَسُول! په نورو طعام خوړل د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي، ❁ زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په نورو طعام خوړل خوښول، ❁ حضرت سَيِّدُنا طلحه بِن عَمرو رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي: د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له طرفه د اصحابِ صُفَّه د پاره كجورې مقررې وے، كومې به چې هره ورځ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته راليږلې (4) ❁ حضرت اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي: زه په صُفَّه كښې ووم چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ له عجوه كجورې را اوليږلې. (5)

---

1 …جامع بیانِ عِلم، بَابُ:عِلم کے فضائل، جلد: 1صفحہ:201، حدیث:220۔

2 …ابو داؤد، کتاب:زکوٰۃ، باب:سقی الماء، صفحہ:274، حدیث:1682۔

3 …مسند ابی یعلی، ثابت البنائی عن انس، جلد:3، صفحہ:138، حدیث:3420۔

4 …معجم کبیر، جلد:4، صفحہ:388، حدیث:8086۔

5 …مستدرک، کتاب:الاطعمہ، جلد:5، صفحہ:165، حدیث:7214۔

اے عاشقانِ رَسُول! دا يو څو مثالونه دي،کني حقيقت خو دا دے چې چا ته هم چې څه ميلاويږي، زمونږ د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر ميلاويږي، ټوله دُنيا د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صَدَقه خوري.

| | |
|---|---|
| کھاتے ہیں تیرے در کا، پیتے ہیں تیرے در کا | پانی ہے تیرا پانی، دانہ ہے تیرا دانہ |

اللّٰه پاك دِ مونږ ته هم په سُنَّتِ مُصطفٰى صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د عمل کولو سره د مسلمانانو د خير خواهئ کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې

کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[3] راځئ چې په

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

3...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوک اوچتې مرتبې والا دے! چې کله هغه لاړو نو سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ

1...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

وسلّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اوwائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلّی الله عليهِ واٰلهٖ وسلّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اوwائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵